وطندار Vatandar
نشریهء سیاسی فرهنگی اجتماعی و فلسفی افغانستان

# بابلیان

روایاتو نه را پاتې دا قصه ده
په زړه پورې ، هم خوږه او هم ترخه ده
په یو وخت کې د ادم (ع) ښه اولادونه
د یوه کاله استوګن، خویندي ورونه
سره یو شول د د نیا کار او روزګار ته
کړاوونو، بد بختیو او هر کار ته
یوه ئې خوله وه ،یوه ئې ژبه ،یوګومان وو
کړه ئې یو وو، هوډ ئې یو او یو ئې ځان وو
ځانته ئې جوړه کړه نړۍ د سو کالیو
د وفور ، د راحتونو او ښادیو
نور څه پاتې نه شول کړو ته چاپیر یال کې
خیال کې نو ئې نوي څه را وګر ځیدل
چې اسمان ته د ختلو لار پیدا کړي
د سپوږمۍ او لمر په راز هم ځان اګاه کړي
نو ئې پیل کړ ه د یوه برج په جوړولو

د زينو او د پلګو په جګولو
چې نا خاپه د يهوه و دوي ته پام شو
نو و خپلې خدائي ته ئې زړه خام شو
چې که دا خلک پيدا کړې لار اسمان ته
د رازونو او سوالونو دي جهان ته
هسې نه چې د خدائې هوا پيدا کړي
په جهان د پا چاهۍ دعوا پيدا کړي
نو په فکر کې د لا رې او ګودر شو
په تلاش کې د چارې ددې خطر شو

نو په دوي کې ئې پيدا کړ ، يو توپير
ډير کاري خو، وو ساده دغه تدبير
ډيرې ژبې ئې کړې ددوی منځ کې پيدا
هر يوه کړه خپله لاره ما سوا
پو هيدل نه د يو بل په ژبه دوی نور
سره بيل شول مور او لور ، ابا له زوی نور
اتفاق او و فاق لاړل بدبينی ، شوه
بنده وروری نه جوړه بده تربګنی شوه
که به چا وبل ته کړه نيکه خبره
نو خواب به ئې ګوذار وو نابېره
يو او بل ته د کو هيو په کيندو شول
په ماتم او ژړا سر ، په ورکيدو شول
ورځ به هر يو په بديو کې کړه تيره
نو د برج د جوړيدو خبر شوه هيره

مونږه هم چې کله وکړو اتفاق
د وروری ، د سوکالی او د وفاق
چې کړو جوړ دا خپل عزيز او ګران وطن

نو د ښمن            مو     شي    له واره  اهریمن

مونږ       کاڼه    کړي خو سل خولې  راکې  پيدا کړي

هر  يو    تن     په    نا آشنا      ژبه  ګويا  کړي

خو ځيدل     وينو     د    يو    او  بل د  خولې

خو     پو هيرو      سره      نه             په  کلمې

يو  له  بل نه  ليرى      کيرو          د ښمنى   کې

که    نږدې      شو    سره   وژنو    تربګنى   کې

که   وه    پيښه    دا    قصه     په      بابليانو

تکراريږي      همدا اوس په      په    افغانانو

۲۰۰۶.۲.۱۳


admin@vatandar.at

مدير مسوول : ديپلوم انجنيرعمر محسن زاده

صاحب امتياز : انجنيرنجيب يوسفى



کليه ى حقوق بر اساس قوانين کپى رايت  محفوظ و متعلق به «وطندار» مى باشد






